

# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه
# اباډي
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۲۲ | مسلسل نمبر: ۱۱۲


چهارشنبه، د ربیع الاول ۱۰مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## سرلیکنه



اوبه د بشري ژوند یو مهم عنصر دی چې د ښارونو په پراختیا او پرمختګ کې یې ارزښتناک رول لوبولی دی. د بشر ژوند او د ښارونو پراختیا او پرمختګ په اوبو پورې تړلي دي. له دې امله زیاتره هېوادونه په دې هڅه کې دي چې وکولای شي د اوبو د کمښت کړکېچ مهار کړي. په بېلابېلو هېوادونو کې د ښاري اوبو د مدیریت له پاره نوې تګلارې تجربه شوې دي او هڅه داده چې داسې لارې چارې ولټول شي، څو له مخې یې ښاري اوبه په سم او معیاري ډول مدیریت او د اوبو د کمښت ستونزې ته پای ورکړل شي. په کابل ښار کې د څښاک او نورو اړتیا وړ اوبو د پوره کولو لپاره د خلکو ټوله تکیه یوازې ترځمکه لاندې اوبو باندې ده. اوس په کابل ښار کې ترځمکه لاندې اوبو کچه ټیټه شوې ده. له دې امله زیاتره خلک له ستونزو سره مخ دي. افغانستان په تیره بیا د کابل ښار تر ځمکې لاندې اوبو په برخه کې نه په علمي او نه په نظري ډول اغېزناک ګامونه پورته شوي دي او نه ورته چا عملي کار کړی دی، ان د ښار اوسیدونکي او اړوندو ادارو ته دا ستونزه هېڅ ستونزه نه ده ښکاره شوې او سترګې پرې پټې شوې دي. خو دا مهال په کابل ښار کې ترځمکه لاندې اوبو کمښت خلکو ته ستر سرخوږی جوړ کړی دی. اسلامي امارت دې ستونزې ته جدي پاملرنه کړې او هڅه یې داده چې په دې برخه کې عملي ګامونه پورته او دې سترې ستونزې ته پای ورکړي. اسلامي امارت د کابل ښار د څښاک اوبو د ستونزې د حل په برخه کې ځینې طرحې چمتو کړې چې له هغې جملې یوه یې د پنجشیر له سیند څخه کابل ښار ته د نل له لارې د اوبو انتقال طرحه ده. د دې طرحې د عملي کېدو په موخه د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د اسد میاشتې په ۳۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د کتوازي ګروپ خصوصي شرکت له مسوولینو سره وکتل. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د کابل ښار د اوبو د کمښت ستونزې ته متوجه دی او په جدي او اساسي ډول یې د حل لپاره هڅې کوي. د کتوازي ګروپ شرکت مسوولینو وویل، چمتو دي چې د ټولو معیارونو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره له پنجشیر سیند څخه کابل ښار ته د اوبو د انتقال په پروژه کې پانګونه وکړي. د دې په څنګ کې د متحده اماراتو د اوبو رسولو او فاضله اوبو شرکت د یونیسف په همکارۍ د قرغې بند څخه د پولې تخنیک پوهنتون ۱۰۰۰۰ متر مکعب زیرمې ته د اوبو لیږدولو پروژه پرانیسته. دا پروژه، چې په کابل کې د ۶۰ څخه تر ۷۰ زرو کورنیو ته د څښاک د اوبو رسولو لپاره ډیزاین شوې وه، د ۱۴۰۴ کال د اسد په شپږمه نیټه پرانیستل شوه. کابل ته د پنجشیر له سیند څخه د اوبو د نللیکې په غځولو سره به د څښاک اوبو په برخه کې د کابل د اوسیدونکو ستونزې تر ډېره بریده هوارې شي. اسلامي امارت هڅه کوي چې د کابل د څښاک د پاکو اوبو د کمښت ستونزه په بشپړ ډول له منځه یوسي. د دې چارې د ترسره کېدو له پاره یو په بل پسې ګامونه اخلي.

## د عزیزي انرژي ګروپ له لوري د لس زره میګاواټه بریښنا تولیدي پروژې د لومړي فاز عملي چارې ژر پیلیږي



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګونو لویې لارې له کاري بهیر څخه لیدنه وکړه



۲ مه صفحه

## د غوري سیمنټو د دریمې فابریکې د جوړېدو چارې پیل شوې



۳مه صفحه

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

# د عزيزي انرژي ګروپ له لوري د لس زره مېګاواټه برېښنا توليدي پروژې د لومړي فاز عملي چارې ژر پيلېږي


د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند نن د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې مياشتې په پنځمه نېټه په خپل کاري دفتر کې د هېواد له ملي سوداګر او د عزيزي انرژي ګروپ شرکت له عمومي رييس ميرويس عزيزي او د هغه له تخنيکي ټيم سره وکتل.

د دې ليدنې پرمهال د ميرويس عزيزي د لس زره مېګاواټه پروژې د چارو د پرمختګ راپور د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال ته وړانـــدې کړ. ښـــاغلي عزيـــزي وويل، د تفاهمنامې له لاسليک وروســـته يې خپل ټيمونه د اړوندو وزارتونو د تخنيکي ټيمونو سره يوځای بغلان، بلخ،

جوزجان، هرات او باميـــان ولايتونو ته وليږل، چې د تېرو شـــاوخوا دوه اوونيو پـــه جريان کې يې د يوشـــمېر پروژو ابتدايي سروې ترسره او تخنيکي معلومات يې راټول کړي دي. نوموړي زياته کړه، د لس زره مېګاواټه برېښنا د توليد پروژه يې په درېيو فازونو وېشـــلې ده، چې لومړی فاز يې د خلور زره مېګاواټه برېښنا ظرفيت لري.

د عزيزي انـــرژی ګروپ شرکت مســـوولينو د معلوماتو پر اساس، په لومړي فاز کې د موجودو پروژو عملي چارې به له اړوندو وزارتونو او ادارو سره په ګډه ژر پيل کړي. ښاغلي عزيزي په دې اړه خپلې غوښـــتنې هم د رياست‌الوزراء له اقتصادي مرستيال سره شريکې کړې.

د رياســـت‌الوزراء اقتصادي مرستيال او د اړوندو وزارتونو او ادارو مســـوولينو د يادو غوښتنو د پوره کولو اطمينان او ډاډ ورکړ. د غونډې په پای کـــې د محترم ملا عبدالغني برادر اخونـــد د هدايت پر اســـاس د اړوندو وزارتونـــو او ادارو او عزيزي انرژي شرکت له اســـتازو څخه ګډه کمېټه جوړه او دنده ورته وسپارل شـــوه، څو د لس زره مېګاواټه برېښنا د توليـــدي پروژو د کارونو تعقيب او نظارت ترسره او راپور يې د رياســـت‌الوزراء اقتصادي معاونيت له مقام سره وخت په وخت شريک کړي.



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سالنګونو لويې لارې له کاري بهير څخه ليدنه وکړه

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې مياشتې په نهمه نېټه د ســـالنګونو لويې لارې لـــه کاري بهير څخه ليدنه وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د ټولګټو

وزارت او قراردادي شرکتونو له ترسره شـــوو کارونو ستاينه وکړه او هغوی ته يې سپارښـــتنه وکړه، څو د کيفت په پام کـــې نيولو سره د ژمې تر را رســـېدو مخکې د دغه مهمې لارې پاتې کارونه هم بشپړ کړي.

د ټولګټو وزارت او قراردادي شرکتونو مســـوولينو د رياست الـــوزراء اقتصادي مرســـتيال ته ډاډ ورکړ، چـــې د ټولو معيارونـــو په پام کـــې نيولو سره د ســـالنګونو لويې لارې کارونه دوام لري او ژمن دي، چې د روان کال لپاره پلان شـــوي کارونـــه به د ژمـــي تر را رســـېدو مخکې بشـــپړ کړي.اوسمهال د سالنګونو لويې لارې د جنوبي سالنګ د ۱۰مـــې تر ۱۵مې ګالرۍ پورې د بيارغونې کارونه بشـــپړ شـــوي، چې په مجموع کې د جنوبي سالنګ کارونه ۵۵ ســـلنه پرمخ تللي دي. په يادو تکميل شوو ګالريو کې په لوړ کيفيت ۸۵ سانتي متره کانکريټ اچول شوي دي. په ورته وخت کې د شمالي سالنګ د بيارغونې کارونه هم په چټکۍ سره روان دي.



ABAADI ONLINE WEEKLY
اباديْ
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

# د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د جوړېدو چارې پيل شوې



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې په نهمه نېټه په بغلان ولايت کې د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د جوړېدو چارو د پيل پرانيسته وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په هېواد کې دننه د سيمنټو توليد او په دې برخه کې خودکفايي ته د رسېدو لپاره د دې فابريکې پرانيستل مهم وبلل او ويې ويل، صنعتي کېدل د هر هېواد د لويو اهدافو په سر کې قرار لري؛ هغه هېوادونه چې په مختلفو برخو کې توليدي فابريکې لري، نه يوازې په کور دننه د هېوادوالو اړتياوې پوره کوي؛ بلکې د اضافي توليد له امله صادرات هم کوي. محترم ملا صاحب زياته کړه، توليدي فابريکې د هېواد د ملي توليد او ملي عوايدو په لوړېدو او د ملي اقتصاد په پياوړتيا کې اساسي رول لري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زياته کړه، د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې د توليد په پيل سره به د هېواد د سيمنټو اړتيا لويه برخه په کور دننه پوره شي، صنعت به پراختيا پيدا کړي، له هېواد څخه به د اسعارو وتلو مخنيوی وشي، د ودانيزو چارو په تسهيل او تسريع او د سيمنټو په نرخ کې به ثبات رامنځته شي، ډېرو هېوادوالو ته به کار پيدا او په لويه کې به د صنعتي افغانستان پر لور مهم ګام واخيستل شي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال وويل، افغانستان تر ډېره پر بهرنيو وارداتو متکي دی او د ملي بوديجې زيات رقم هم د وارداتو په مقابل کې ورکول کېږي، په داسې حال کې چې له بهر واردېدونکي توکي له يوې خوا قيمته تماميږي او له بلې خوا پايداره او ډاډمنه سرچينه نه ګڼل کېږي. د هغه په خبره، د هېواد په داخل کې د توليد دا ډول فابريکې کولی شي، چې په تدريجي ډول پر بهرنيو وارداتو د هېواد اتکا راکمه او د يو توليدي افغانستان په لور به اساسي ګامونه واخيستل شي.

په پای کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د غوري سيمنټو د درېيمې فابريکې له مسوولينو وغوښتل څو د يادې فابريکې چارې له منل شوو معيارونو سره سمې په پوره صداقت پرمخ بوځي او له هر ډول کاري او تخنيکي غفلت څخه ډډه وکړي.

د يادونې وړ ده چې د غوري سيمنټو پر درېيمې فابريکې ۸٦.۸ ميليون ډالر لګښت راځي چې د جوړېدو چارې به يې په ۱۸ مياشتو کې د ملي پراختيا شرکت له لوري بشپړې شي. د غوري سيمنټو فابريکه به د دې درېيمې فابريکې د چارو په بشپړېدو سره په ۲۴ ساعتونو کې د ۵۰۰۰ ټنه سيمنټو د توليد وړتيا پيدا کړي.

# د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو چارې پيل شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې په لسمه نېټه په تخار ولايت کې د تخار سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په لومړي سر کې په مشرقي ولايتونو کې د زلزلې له امله شهيدانو ته د جنت او ټپيانو ته د عاجلې شفاء دعا وکړه او د هغوی کورنيو ته يې تسليت وړاندې کړ. محترم ملا صاحب ځان له زلزله ځپلو کورنيو سره په دې غم کې شريک وباله او ويې ويل، د اسلامي امارت ټول اړوند مسوولين لاس پکار دي او له شته امکاناتو څخه په کار اخيستو يې د پېښې سيمو ته رسېدنه کړې ده.

ورپسې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د تخار ولايت د سپين زر سوداګريز ښارګوټي د جوړېدو چارو پرانيست غونډې ته وويل، د عامه سکتور ترڅنګ د خصوصي سکتور له لوري په هره کچه پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې مهم جز جوړوي او د افغانستان اسلامي امارت يې ملاتړ کوي. محترم ملا صاحب په هېواد کې د پانګونې ارزښت ته په اشارې سره وويل، په خدماتي او توليدي اساساتو کې پانګونه د هېواد د اقتصادي رشد او پراختيا له اساسي عواملو څخه ګڼل کېږي. هغه زياته کړه، پانګونه توليدي ظرفيتونه او صادرات زياتوي، صنعت ته پراختيا ورکوي، کاري فرصتونه رامنځته کوي او په ټوله کې ورسره د هېواد عايد زياتيږي.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په تخار ولايت کې د دې لوی سوداګريز ښارګوټي جوړېدل مهم وبلل او ويې ويل، چې دا به د هېوادوالو پر اقتصادي او ټولنيزه

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

هوساينه مثبت اغېز ولري.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت له لوري ټولو سوداګرو او پانګوالو ته ډاډ ورکړ، چې ستونزو ته به يې په وخت رسېدنه کېږي او په ټولو برخو کې به ورسره لازمه همکاري کوي.

د يادونې وړ ده چې د تخار ولايت سپين زر سوداګريز



ښارګوټي کې د غله جاتو، ميوه جاتو، پياز او کچاليو، ساختماني توکو او درملو سوداګريز مارکېټونه په پام کې نيول شوي، چې ټولټال پرې د عامه خصوصي مشارکت له لوري دوه ميلیارده ۴۵۰ میلیونه افغانۍ پانګونه کېږي.

دغه ښارګوټی په ۶۰ جريبه ځمکه کې جوړېږي، چې د پنځو مارکېټونو له جملې يې د غله جاتو مارکيټ ګټې اخیستنې ته وسپارل شو او د پاتې څلورو مارکېټونو د جوړېدو چارې يې پيل شوې. د تخار ولايت سپين زر سوداګريز ښارګوټی به په مجموعي ډول تر دوه زره زيات دوکانونه ولري، چې زرګونو هېوادوالو ته به کاري زمينه هم برابره کړي.

همدا راز محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په تخار ولايت کې د خصوصي سکتور له لوري د موټرونو د خرڅلاو، موټرونو مينځلو، د تجارتی دوکانونو او د ساختماني شرکتونو د دفترونو پروژې د جوړېدو چارو پرانيسته هم وکړه. په دې پروژه ۱۸۰ میلیون افغانۍ پانګونه کېږي.

# په کندوز کې د ٦.٣ ميلیارده افغانيو په پانګونې د کندوز سپين زر سوداګريزو مارکېټونو د جوړېدو چارې پيل شوې

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سنبلې مياشتې په لسمه نېټه په کندوز ولايت کې د کندوز سپين زر سوداګريزو مارکېټونو د جوړېدو چارو پرانيسته وکړه. د




رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په لومړي سر کې په مشرقي ولايتونو کې د زلزلې له امله شهيدانو ته د جنت او ټپيانو ته د عاجلې شفاء دعا وکړه او د هغوی کورنيو ته يې تسليت وړاندې وکړ. محترم ملا صاحب ځان له زلزله ځپلو کورنيو سره په دې غم کې شريک وباله او ويې ويل، د اسلامي امارت ټول اړوند مسوولين لاس پکار دي او له شته امکاناتو څخه په کار اخيستو يې د پېښې سيمو ته رسېدنه کړې ده.

وريسې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د کندوز سپين زر سوداګريزو مارکېټونو د جوړېدو چارو پرانيست غونډې ته وويل، د عامه سکتور ترڅنګ د خصوصي سکتور له لوري په هره کچه پانګونه د هېواد د اقتصادي ودې مهم جز تشکيلوي. هغه زياته کړه، د پانګونې له مخې په هېواد کې دننه د ناخالص توليد او صادراتو کچه زياتېږي، صنعت وده کوي او په ټولنه کې ورسره د هېواد عايد زياتيږي چې دا پر ټولنيزه هوساينه مثبت تاثير لري.

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په کندوز ولايت کې د عامه خصوصي مشارکت له لارې د درېيو سوداګريزو ودانيو جوړېدل مهم وبلل او له اړوندو شرکتونو څخه يې



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او تولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديٍ اوونيزه
هفته‌نامه آبادی


وغوښتل، چې خپل فعالیتونه د ټولو معیارونو په پام کې نیولو سره په پوره صداقت او شفافیت ترسره کړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اسلامي امارت له لوري ټولو سوداګرو او پانګوالو ته ډاډ ورکړ، چې ستونزو ته به یې په وخت رسېدنه کېږي او په ټولو برخو کې به ورسره لازمه همکاري کوي.

د یادونې وړ ده چې په دې پروژو کې د پنځه میلیارده او ۴۲۶ میلیونو افغانیو په پانګونې د سپین زر نړیوال سوداګریز مرکز چې په ۶۳ جریبه ځمکه د درېیو کلونو په موده کې جوړېږي، د ۳۰۰ میلیونو افغانیو په پانګونې د سیمسارۍ سوداګریز مارکېټ چې پر دوه جریبه ځمکه په یو کال کې او د ۵۷۶ میلیونو افغانیو په پانګونې د لوښو خرڅونې او بربښنایي سامان الاتو مارکېټ چې په دوه جریبه ځمکه په یو کال کې جوړېږي، شاملې دي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دښتي لیلي د شهیدانو ارواح ته دعا وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد شمالي ولایتونو ته د خپل سفر پر مهال د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سنبلې میاشتې په یوولسمه نېټه په جوزجان ولایت کې د دښتي لیلي د شهیدانو مزار ته ورغی او د هغوی سپېڅلي ارواح ته یې دعا وکړه. محترم ملا صاحب د دښتي لیلې د شهیدانو قربانۍ نه هېرېدونکې وبللې او ویې ویل، د اسلامي نظام د اقامې په لاره کې د هغوی قربانۍ بې ساري دي او اسلامي امارت به د هغوی د ارمانونو پوره کولو لپاره پوره هڅه وکړي.

# اخبار اقتصادی هفته

## دعوت وزارت معادن از سرمایه‌گذاران خارجی برای سرمایه‌گذاری در معادن کشور

هدایت‌الله بدری، وزیر معادن و پترولیم، در سخنرانی‌اش در فورم صنایع نفت و گاز تاتارستان، با اشاره به ذخایر وسیع نفت و گاز افغانستان، از شرکت‌های تاتارستان خواست تا در حوزه‌های نفتی آمو، کتواز و هلمند سرمایه گذاری کنند. همایون افغان، سخنگوی وزارت معادن و پترولیم، می‌گوید: «به اشتراک‌کنندگان در مورد ذخایر معدنی افغانستان به‌ویژه نفت و گاز و فرصت‌های موجود برای سرمایه‌گذاری در این بخش معلومات داده شد و از شرکت‌ها و سرمایه‌گذاران آن کشور دعوت گردید تا به‌ویژه در حوزه‌های نفتی آمو، کتواز و هلمند سرمایه‌گذاری نمایند.» در همین حال، مسوولان سکتور خصوصی جذب سرمایه‌گذاری خارجی در بخش نفت، گاز و سایر منابع طبیعی را برای رشد اقتصادی کشور مهم می‌دانند، اما تاکید می‌ورزند که بخشی از عواید معادن باید در بخش های زراعت، صنعت و پروژه‌های زیربنایی مصرف گردد. خان‌جان الکوزی، عضو هیات مدیره اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری، می‌گوید: «ذخایری که ما در شمال و سایر مناطق داریم قابل توجه و مهم هستند. کار شرکت‌های بزرگ کشورهای منطقه قابل ستایش است و من از آن‌ها قدردانی می‌کنم. شرکت‌های روسی نیز در گذشته در این زمینه فعالیت کرده‌اند.» بر بنیاد معلومات وزارت معادن و پترولیم، هدایت‌الله بدری در دیدارش با رییس‌جمهور جمهوری تاتارستان و دیگر مقام‌های تاتارستانی، روی ایجاد یک کمیته تخنیکی مشترک برای گسترش همکاری‌ها گفت‌وگو کرده‌است. در مقابل، جانب تاتارستانی تعهد کرده که برای افغان‌ها زمینه بورسیه‌های تحصیلی و برنامه‌های آموزشی را فراهم می‌سازد.

## شرکت برشنا: پروژه کاسا-۱۰۰۰ در افغانستان وارد مرحله تازه شد

پروژه کاسا-یک‌هزار که برنامه انتقال هزار میگاوات برق از قرغیزستان و تاجیکستان به افغانستان و پاکستان را هدف قرار داده، در افغانستان وارد مراحل تازه شده است. شرکت برشنا می‌گوید کار این پروژه در خاک افغانستان هم اکنون در سه بخش جریان دارد و قرار است تا دو سال آینده تکمیل شود. به گفته مقام‌های برشنا، در سال گذشته با همکاری تمویل‌کنندگان، ۴۰ میلیون دالر از بدهی‌های پیشین این پروژه پرداخت شده و قرار است ۹۰ میلیون دالر دیگر نیز تأمین شود. ناصر احمدی، معاون عملیاتی ریاست عملیاتی شرکت برشنا می‌گوید: « در سال قبل، ما جلسات متعدد با دونرهای که کاسا یک‌هزار را تمویل می‌کنند داشتیم، ۴۰ میلیون دالر مقروضیت‌های قبلی بود که توسط دونرها پرداخته شده است و در حدود ۹۰ میلیون دالر دیگر که نیاز است دونرها تعهد کرده اند که می پردازند و فعلا خوشبختانه که کار این پروژه در افغانستان در سه بخش جریان دارد.» از مجموع هزار میگاوات برق این پروژه، ۳۰۰ میگاوات به افغانستان اختصاص خواهد یافت و باقی آن به پاکستان صادر می شود. بر بنیاد معلومات شرکت برشنا، افغانستان از مسیر این پروژه سالانه پنجاه میلیون دالر حق ترانزیت نیز به دست خواهد آورد. قرارداد پروژه کاسا-یک‌هزار در سال ۲۰۱۶ امضا شده است. کار بخش‌های مربوط به قرغیزستان و تاجیکستان تکمیل شده، اما در افغانستان این پروژه به دلیل مشکلات مالی و تغییرات سیاسی با تأخیر روبه‌رو بوده است.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخــه كــي
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
ابادي اوونيزه
هفته نامه آبادی



# د تيلو چاڼ خونې او د هغــو اقتصــادي ارزښت

فضل ولي شيراني

## سريزه

تر څمکه لاندې بېلابېلې طبيعي سرچينې شته چې له دغو سرچينو څخه انســان د خپل ژوند پرمــخ بيولو له پاره ګټه اخلي. له دې څخه جوته شــوه چې طبيعي سرچينې د بشر له پاره اقتصــادي ګټې لري او د يو هيــواد په اقتصادي پياوړتيا کې زيات ارزښت لري. د نړۍ هر هيواد هڅه کوي چې له خپلو طبيعي سرچينو څخه د خپل هېواد د اقتصاد د پياوړتيــا په برخه کې اعظمي ګټــه پورته کړي، څو يې له يوې خوا ملي اقتصاد غښـــتلی او له بل لوري يې د خلکو د ژوند ســـطحه لوړه شي. په دې سرچينو کې مهم کولی شو چــې د کرنيزو ځمکو،ځنګلونو، کانونـــو، اوبو، څرځايونو او داســې نورو يادونه وکړو. دا ټول کــولای شي چې د يوه هېواد پــه پرمختګ کې رغنده رول ولــري، خو کانونه په ځانګړې ډول نفت چې په توره طلا هم مشـــهور دي، هغه برخه ده چې که چيرې په سم ډول مديريت، استخراج يې ترسره او بيا په هېــواد کې د ننه چاڼ او تصفيه شي، نو يو هېواد د پرمختګ ترڅنګ پر نړيوال ســـتيج هغه ځای ته رسوي چې خبره يې وزن پيدا کړي.

## د افغانستان د تېلو زېرمې

په افغانستان کې په ۱۹۵۶م کال کې د تيلو او ګازو د پلټنې او موندنې په موخه لومړنۍ کيندنې ترسره شوې، چې له امله يــې د سرپل د انګــوټ د تېلو حوزه وموندل شـــوه. له هغه وروســـته له ۱۹۵۹ نه تر ۱۹۶۶م کال پورې په دې حوزه کې پنځوس څاګانې وکيندل شوې چې وېې کولای شول د يتيم تاق، خواجه ګوګردک، خواجه برهان ګازو زيرمې پيدا کړي. له ۱۹۶۶ څخه بيا تر ۱۹۸۱م کال پورې د پلټنو په پايله کې د تېلو دوې کوچنۍ زيرمې کشف شوې چې د هېواد په شمال لوېديځ کې موقعيت لري. په وروســـتيو څېړنو کې جوته شوه چې د اموسيند د تېلو ستره حوزه هغه حوزه ده چې په نړۍ کې د تيلو او ګازو د ۱۵۲ حوزو په منځ کې پنځلسمه درجه لري. دغه حـــوزه ۴۰۰ زره کيلومترمربع پراختيا لـــري او په څلورو هېوادونو افغانستان، تاجيکستان، ترکمنستان او ازبکستان کې غځېدلې ده. خو کومې څېړنې چې د ناسا ســـازمان له لوري ترسره شـــوې دي، په افغانســـتان کې له ۱۰۰ زياتې سيمې شته چې تيل او ګاز لري. تر دې مهاله په افغانستان کې د تيلو د پنځو حوزو په اړه څېړنې ترسره شـــوې دي چې دوې حوزې د آمو سيند، يوه حوزه د هلمند، يوه حوزه د هرات او يـــوه د پکتيکا د کټواز د تېلو حوزه ده. د تېلو او ګازو دوې نورې حوزې د هېـــواد په شمال ختيځ کې د افغان- تاجيک حوزه او بله د افغان- ترکمن حوزه ده. د افغان- تاجيک د تېلو او ګازو حوزه چې په کندوز ولايت کې موقعيت لري، شاوخوا ۱،٦ ميليارده بيلـــره تېل لري. د هلمند د ګازو او تېلو حوزې مساحت ۱۳۱ زره کيلومتره مربع ته رسيږي. د تېلو او ګازو يوه بلـــه ستره حوزه د هېواد په ختيځ کـــې د کونړ په ولايت کې موقعيت لري. په افغانستان کې د تېلو او ګازو زيرمې پربمانه دي که استخراج شي، نو له شک پرته چې د انرژۍ په توليد کې به رغنده رول ولوبوي او افغانستان به له دې پلوه پر ځان بســـيا کړي. خو دا هغه مهال شونې ده چې د تېلو تصفيه په هېواد کې د ننه ترسره شي. د اسلامي امارت په راتګ سره د تېلو د استخراج او بيا يې د چاڼ او تصفيې په برخه کې کوټلي ګامونه پورته شوي دي. دا مهال په هېواد کې د تېلو يو شمېر چاڼ خونې فعالې شـــوې دي. دا چې دغـــه چاڼ خونې څه اهميت لري، لاندې يې په ګډه لولو.

## د تېلو چاڼ خونې او د هغو اهميت

په صنعتي او اقتصادي برخو کې د تېلو چاڼ خونو ارزښت او اهميت ډېر زيات دی، ځکه چې دا د خامو تېلو پروسس کولو او د کاروني وړ محصولاتو لکه پټرول، ډيزل، جټ تيل او نورو کيمياوي موادو توليد لپاره اړيــن مرکزونه دي. د تېلو چاڼ خونـــې خام تيل په مختلفو محصولاتو لکـــه پټرول، ډيزل، کرســـين(خاورو تېـــل) او مايـــع ګاز (LPG) بدلوي، چې د ترانسپورت، صنعت او نورو لپاره اړين دي. دغه راز د تېلو په چاڼو خونو کې د پلاستيک، رنګونو، درملو، کيمياوي سرې او نورو کيمياوي محصولاتو لپاره خام مواد (لکه پټروکيمياوي توکي) توليدېـــږي. د تېلو په چاڼ خونو کې د ترانســـپورټ سکټور لپاره په دوامدار ډول سون توکي برابرېږي چې دا بيا د هېواد په ســـوداګرۍ، لوژيستيک او په ټوله کې د اقتصادي ودې پـــه برخه کې مهم رول لوبوي. د دې ترڅنګ د تېلو په چاڼ خونـــو کې ځينې نور محصولات لکه قير، ګريس او نور صنعتـــي مواد هم توليدېږي. د دغو موادو څخه د ســـړکونو جوړولو او صنعتي ماشينونو په برخه کې کار اخيستل کيږي. د تېلو د چاڼ خونـــو په جوړولو او فعالولـــو سره به موږ پر دې وتوانيږو چې خپل خام تېل پروســـس او لـــه دې درکه چې اوســـمهال د دې ســـون توکو په مقابل کې کومې پيسې له هېواده وځي، هغه به هم وسپمېږي. په همدې موخه اسلامي امارت هڅه کـــړې چې په هېواد کې د ننه د تېلو چاڼ خونې جوړې کړي. تر دې مهاله په افغانستان کې د تېلو ۱۵ چاڼ خونې فعالې دي.د ســـوداګرۍ او پانګونې خونه وايي چې په هېواد کې شـــاوخوا ۱۵ د نفتو چاڼ ځايونه فعال دي، چې د کورنيو خامو نفتو تر څنګ يو شمېر کم‌کيفيته وارداتي تېل هم تصفيه کوي. د دې خونې د مسوولينو په وينا، ډېرى دغه

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي
هفته‌نامه آبادی



تاسیسات په بلخ، کابل او هرات ولایتونو کې دي او هر یو یې په خپل ډول د هېواد د اړتیا وړ سون توکو په برابرولو کې رول لري. اسلامي امارت د تېلو چاڼ خونو اهمیت درک کړی او پر دې پوره باوري دی چې که چیرې موږ خپل تېل استخراج او همدلته یې چاڼ او تصفیه کړو، نو په اسانۍ سره به وکولای شو، له دې پلوه پر ځان بسیا او اقتصادي وده مو نوره هم ګړندۍ شي. دا چې د تېلو چاڼ خونې په اقتصادي وده کې څومره اغېزناکې تمامیدای شي، لاندې یې لولو.



## د تېلو چاڼ خونو اقتصادي ارزښت

په صنعت کې د تېلو ارزښت ډېر لوړ دی، ځکه چې دا د انرژۍ تر ټولو مهمو سرچینو څخه یوه ده او په بېلابېلو برخو کې کارول کېږي. تېل د برېښنا تولید، ماشینونو چلولو او د تولیدي پروسو لپاره اصلي انرژي چمتو کوي. د موټرو، الوتکو، او کښتیو لپاره سون توکي (پټرول، ډیزل، او جټ تېل) له تېلو څخه جوړېږي. تېل د پلاستیک، کیمیاوي موادو، سرې او درملو په جوړولو کې خامه ماده ده. تېل د فلزاتو په تصفیه، کاغذ جوړولو، او نورو صنعتي پروسو کې کارول کېږي. دا ټولې هغه برخې دي چې پر مټ یې کولای شو، خپل اقتصادي سکټورونه غښتلي او په پای کې ملي اقتصاد پیاوړی کړو. د دې بله ګټه داده چې کله موږ د تېلو او د هغه د مشتقاتو په برخه کې پر ځان بسیا شو، نو له یوه لوري مو هېوادوالو ته په بېلا بېلو برخو کې د کار زمینه برابریږي او له بل لوري د مالیې په ترلاسه کولو سره د حکومتي عوایدو کچه لوړېږي. دغه راز د تېلو عرضه او تقاضا د نړیوال اقتصاد پر قیمتونو، سوداګرۍ او پانګونې اغېز کوي. په لنډ ډول ویلای شو چې افغانستان د تېلو پریمانه زیرمې لري او د اسلامي امارت په راتګ سره د دې زیرمو استخراج پیل شوی دی، خو که موږ خپل اومه تېل همدلته پروسس او د کارونې وړ وګرځوو، نو له شک پرته چې په نړیواله کچه به افغانستان هم د هغو هېوادونو په کتار کې ودرېږي چې اوسمهال د خپلو تېلو له برکته د پرمختګ په لوړو مقامونو کې ځای لري. اسلامي امارت د تېلو ارزښت ته په کتو په دې برخه کې یو په بل پسې ګامونه پورته کوي او غواړي افغانستان په دې برخه کې ځان بسیاینې ته ورسوي او خپل ملي اقتصاد پیاوړی او خپلواک کړي.

## پایله

افغانستان له طبیعي زېرمو ډک هېواد دی چې د تیرو څو لسیزو په اوږدو کې ورته ډېر درانه زیانونه اوښتي، کانونه په خپلسري ډول کیندل کیدل او ګټه یې د ګوتو په شمیر کسانو ته رسیده. خو اوس چې په هېواد کې خپلواک حکومت رامنځته شوی، نو ځکه خو په فني او مسلکي ډول د کانونو کیندنې ته لار هواره شوې ده. له دې کانونو څخه یو هم د تېلو او ګازو زیرمې دي. که چیرې د افغانستان د تېلو له حوزو لکه اموسیند، افغان- تاجیک، کشکه، کټواز، هلمند او د هرات تیرپارک څخه تیل استخراج شي، نو افغانستان به رسما د نفت تولیدونکو هېوادونو په کتار کې راشي. خو دا هله شونې ده چې موږ خپل تېل په خپله چاڼ او تصفیه کړو. اسلامي امارت په همدې موخه هڅه کوي چې په هېواد کې د تیلو چاڼ خونې زیاتې شي. تر دې مهاله په ټول هېواد کې د تېلو ۱۵ چاڼ خونې فعالې دي چې پکې د هېواد د تېلو له زیرمو را ایستل شوي خام تېل تصفیه کیږي. د دې ترڅنګ هغه تېل چې له بهر څخه واردیږي او کیفیت یې ټیټ وي هغه هم په همدې چاڼ خونو کې تصفیه او په لوړ کیفیت بازار ته وړاندې کیږي. که چیرې په همدې ډول خپل خام تېل تصفیه کړو له دې سره به له یوې خوا افغانستان د تېلو په برخه کې پرځان بسیا او له بل لوري به په نړیوال ستېج خپل برم ترلاسه او نړیوال به یې موقف او دریځ ته درناوی کوي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۶۸,۴۵ | ؋۶۸,۵۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۳۲ | ؋۲۳۲ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۰,۶۴ | ؋۰,۶۵ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۹,۶۷ | ؋۷۹,۷۳ |
| ۱ | روسي روبل | ؋۰,۸۵ | ؋۰,۸۵ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۷۷۷ | ؋۷۷۷ |
| ۱ | انګلیسي پوند | ؋۹۱,۶۶ | ؋۹۱,۷۳ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۲۴ | ؋۱۸,۲۶ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۸,۶۴ | ؋۱۸,۶۵ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۶۰ | ؋۹,۶۱ |